مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۸ / ۰۷

# انجنیر مومند او د موسیقۍ بې ازاره هنر




موسیقي د هیجان، عاطفي، میني او کلیوال ژوند د ماښامونو او حسرتجنو شپېو غریزه انځورګري ده. موسیقي یوه ناویلې او بې ژبې انګازه ده چې ډېر کله د انساني شعور دهلیزونه تخنوي. کله چې شاعر د تخیل په نړۍ کې ترې تم شي، نو د خپل چاپېریال د دردونو او هیلو د انځورولو لپاره قلم او کاغذ ته لاس کړي او د نظم امېل ترې جوړ کړي. بیا دغه منظوم کلام او سازونه، د سندرغاړي له حنجرې سره په همږغۍ د اورېدونکي د ذهن بندیزونه، بند په بند مات کړي.
ما پخپله، هېڅکله نه لیدلي او نه اورېدلي چې کوم هنرمند یا په دودیزې اصطلاح کوم " ډم " دې څوک د کیني او کرکې په تبۍ سوځولی وي؟ څوک یې ځان وژني او د مرۍ خپه کولو ته هڅولی وي. ما تر دې دمه نه دي لوستلي چې کوم سندرغاړي دې کوم پل په بمونو الوزولی وي، کوم ښوونځی یې سوځولی وي او یا یې د کومې ګلالۍ پېغلې پر مخ د قساوت تېزاب شیندلي وي. خو له دې ټولې بې ازارۍ سره سره، زموږ په ټولنه کې د هنرمندانو انساني کرامت ډېر ځله نادیده ګڼل کېږي.
برعکس، زموږ په ګاونډ کې یو سندرغاړی د شهنشاهِ غزل او یوه د ملکه ترنم په القابو نازول کېږي. په ۱۹۷۰م کال کې د عربي نشنلزم پلار، جمال عبدالناصر له نړۍ سترګې پټې کړې او په جنازه کې یې څلور میلیونه خلک راټول شول. خو پنځه کاله وروسته، کله چې د یوه پخواني امام لور او د کوکب الشرق « د ختیځ ستوری» ام کلثوم مړه شوه، نو د الازهر د شیخانو په ګډون د هغې په جنازې کې نژدې پنځه میلیونه ویرجنو مصریانو برخه واخیستله.
زه شرعي عالم نه یم چې د موسیقۍ د حرمت او حلال والي په هکله خپل نظر شریک کړم. البته د هیواد د سندرغاړو په ناخوالې حالت ځورېږم او ګیله یې په ځای بولم. یو له دغو تکره هنرمندانو څخه زما پخوانی دوست، انجنیر مومند دی چې د کلیفورنیا په ایالت کې اوسیږي. نوموړی له نن څخه ۶۵ کاله وړاندې د لوګر په تاریخي او هنرپالي ولسوالۍ، محمداغي کې زېږېدلی دی. په کابل کې یې د انجنیرۍ زده کړې کړېدي، خو له موسیقۍ سره بې برېده مینې ترې اماتور هنرمند جوړ کړی دی. د خپل اصلي مسلک ترڅنګ، هنري هڅو او فعالیتونو ته هم په پوره لېوالتیا سره دوام ورکوي.
پرون مازیګر مې له انجنیر مومند سره د یوټیوب د خپل چېنل لپاره یوه لنډه مرکه وکړه او د (بې ازاره ډم) ترعنوان لاندې یوه سندره یې هم راته زمزمه کړه. له ده مې پوښتنه وکړه چې ژوند خو د لوړو ژورو، ماتو او برياوو ټولګه ده؛ ستا د عمر تر ټولو خوږه خاطره چې اوس هم پرې د خولې خوند تازه کوې، کومه ده؟ له لږ درنګ او سوچ وروسته یې وویل: «کله مې چې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۱م کال کې د پېښور په ګرین هوټل کې له فلسفي لیوني او ملنګ باچا، غني خان سره پېژندګلوي او لیدنه وشوه. زما دا ویاړ هله څو چنده شو چې په هماغې درنې غونډې کې مې د غني خان یو شعر د هغه په وړاندې په ساز او سر کې زمزمه کړ او زه یې بېحده تشویق کړم.
بیا مې وپوښته؛ تر ټولو ترخه خاطره چې تل دې کړوي او ځوروي، هغه به کومه وي؟ سمدستي یې ځواب راکړ: «څلوېښت کاله کېږي چې د هېواد له غېږې لېرې د پردېسۍ شپې، اونۍ، میاشتې او کلونه شمارم. هره شیبه مې زړه غواړي چې د خپل وطن په خړو دښتو، دنګو غرونو، روانو سیندونو او شنو درو کې قدم ووهم؛ د خپلو همزولو او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کلیوالو سره د زړه راز او نیاز وکړم، هدیرو ته لاړشم او د الله تعالی لوري ته د تللو خپلوانو او دوستانو قبرونو ته د عا لاسونه پورته کړم».
کله مې چې وپوښته ته هنر څه ته وايي؟ نو ځواب يې ښخي اکاډمیک وو. « ملګزی صیب، زه په دې باور يم چې هنر د انساني خلاقيت او عاطفي څرګندونه ده چې د ښکلا او ذوق په چوکاټ کې تعبيرېږي. هنر يوازې د تخنيکي مهارت ښودل نه دي، بلکې د ژوند د فلسفي، فطرت او انساني غرايزو رڼه هنداره ده. هنر انسان ته دا توان وربخښي چې له دوديزو لفظي قالبونو نه پورته، خپل غږ په اثرناکي بڼي د چاپېريال خلکو ته ورسوي». مومند واده کړی، يو زوی او يوه لور لري. د حمزه بابا سره د ځانګړي عقيدت او مينې له مخې يې په زوی باندې د حمزه نوم ايښې دی.
په پای کې مې ورڅخه پوښتنه وکړه چې ته خو په هرځای کې بلا مينه وال لرې؛ دا راته ووايه چې ستا د هنر قدردان چېرته ډېر دي؟ ځواب يې داسې وو: «که د زړه خبره درته وکړم نو په کوزې پښتونخوا کې خلک زما د هنر قدر په سمه معنا سره پيژني او په خورا درنښت مې نازوي».
يادونه: که درانه لوستونکي علاقه لري چې له انجنير مومند سره زما مرکه د يوتيوب په چېنل کې وګوري، نو لېنک يې دا دی:


د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ